{«DateLetterGenerated»}

{«PropertyOwnerName»}
{«MailAddress»}
{«MailCity», «MailState» «MailZip»}

ګرانه {«PropertyOwnerName»}:

دا لیک تاسو ته د دې خبر درکولو لپاره دی چې په {«LHCOdate»} د سرب خطرونو کنټرول کولو امر د هغې ملکیت لپاره صادر شوی چې په {«PropertyAddress»} کې موقعیت لري. تاسو ته دا امر درکړل شوی ځکه چې ستاسو نوم د {«CountyName»} کاونټۍ د ملکیت په ریکارډونو کې د مالک په توګه ثبت شوی وو. د اوهایو (Ohio) د روغتیا څانګې پدې وروستیو کې داسې معلومات ترلاسه کړل چې په ګوته کوي چې تاسو د ضبط یا انتقالولو له لارې د ملکیت قانوني مالکانه حقوق لرئ. د تعدیل شوي کوډ برخه 3742.38 دا قاعده لري چې د ملکیت مالک باید په امر کې په ګوته شوي د سرب د هر خطر په کنټرول کولو کې د روغتیا رییس یا د روغتیا بورډ سره همکاري وکړي. د ملکیت د اوسني مالک په توګه تاسو د دغه امر تعمیل کولو مسؤلیت لرئ؛ له همدې امله، د سرب خطرونو کنټرول کولو لپاره د امر یوه کاپي او د عامه روغتیا د سرب خطرونو ارزونې یوه کاپي تاسو ته لیږل کیږي. **<u>تاسو ته دلته امر درکول شی چې د دې امر ترلاسه کولو وروسته په 90 ورځو کې دننه د سرب خطرونه کنټرول کړئ.</u>**

تاسو اړتیا لرئ د ممکنه هغو انتخابونو څخه د کنټرول میتود غوره کړئ چې په دې ضمیمه شوي لیست کې ښودل شوي: "***د سرب خطر کنټرول کولو د میتود انتخاب.*" **فورمه باید د سرب خطر کنټرول کولو کار له پیل څخه مخکې بیرته واستول شي {«HDRepresentative»} ته د فکس له لارې او یا {«HDemail»} یا {«HDphone»} ته د برېښنا لیک استولو له لارې.**

د مالک په توګه، پدې امر کې لیست شوي د سرب خطرونو کنټرول لپاره تاسو باید د تعدیل شوي کوډ 3742 فصل او د اوهایو (Ohio) اداري قانون د 3701-30 او 3701-32 فصلونو سره سم اقدامات وکړئ. د اوهایو (Ohio) اداري قانون 3701-32-03 (14) (A) قاعدې سره سم، د سرب خطر کنټرول کولو کار <u>باید</u> د هغه کس لخوا ترسره شي چې په اوهایو (Ohio) کې د سرب کمولو قراردادي په توګه جواز لري.

**د سرب خطر کنټرول کولو کار بشپړېدو سره، د تصفیې معاینه باید پاس شي.** د تصفیې معاینه باید په اوهایو (Ohio) کې جواز لرونکي د سرب خطر ارزونکي یا د سربو د انسپکټر لخوا ترسره شي. که چیرې د خطرونو کنټرول کولو لپاره لنډمهاله کنټرولونه وکارول شي، نو تاسو باید د څارنې او ساتنې جاري (OMM) پلان وړاندې کړئ. تاسو باید، که د پلې کېدو وړ وي، د تصفیې معاینې راپور او OMM پلان کاپي {«HDRepresentative»} ته د پورته لیست شوې فکس شمېرې ته فکس کولو له لارې یا برېښنالیک پتې ته برېښنالیک استولو له لارې چمتو کړئ.

یوځل چې دا وټاکل شي چې د سرب خطرونه په کافي اندازه کنټرول شوي، د اوهایو (Ohio) روغتیا څانګه به "د تعمیل خبرتیا" صادره کړي او تاسو ته به یې واستوي چې د سرب خطرونو د کنټرول کولو امر به پای ته ورسوي. تر دغه وخته پورې، ملکیت د کنټرول کولو د دې امر تابع دی.

د دې امر اطاعت کولو کې پاتې راتلل ممکن د داسې حکم پایله ولري چې د دغې ملکیت د استوګنې یونټ، د ماشوم د ورځنۍ پاملرنې مرکز یا ښوونځي په توګه کارول منع کړي او په ملکیت باندې د عامه خبرتیا نښه یعنې پلیکارډ ولګوي چې خلکو ته خبرداری ورکوي چې ملکیت د انسانانو د وسېدلو لپاره ناامنه دی.


An Equal Opportunity Employer/Provider

که تاسو د دې امر په اړه کومه پوښتنه لرئ، مهرباني وکړئ {«HDRepresentative»} ته په {«HDphone»} زنګ ووهئ.

په درنښت،

{«HDRepresentativeName»}
{«HDRepresentativeTitle»}
{«HDName»}